# دهگان ، دېگان،دیکان او دهقان
# څوک دي ؟

(شلماني کتاب (یوه څېړنه
تحقیق ارشد کریم شلماني اپریل ۲۰۱۹
دهقان ،دهگان ، دېگان اودهکان څوک دي)؟)
څلورم باب ص۱۴۱ ؟

تر کومه ځایه ، چې ما د (شلماني ) کتاب ولوست او دمختلفو دانشمندانو او څېړونکو نظریات مې د (دهگان ،دیگان ، دهقان ) د نامه په اړوند ورکښې ولوستل، د نامه د اصلي او لرغونې معنا څخه خورا وړاندې او ! توپېري نظریات ګنم
: لومړی
دیګان او دیکان : دواړه نومونه چې، د (گ) او (ک) دحروفو درلودونکي دي ، دواړه یاد شوي نومونه په پشایي ! لرغونې آریایي ژبه کښې دوه ترکیبي نومونه دي او هریو یې ځانته مصادر اوفعلونه لري
الف ـ (دیګان ): په پشایي ژبه کښې یو ترکیب نوم دی اوله دوو برخو، د (دی) او (ګان) څخه جوړدی،چې (دې ) یې د پشایي ژبې د ( لس /ده/دس....) په معنا او د ( ګان ،ګن ) برخه یې د پشایي ژبې د یو ژوندي مصدر (ګانیک / ګنیک = شمیرل ، ګنل، حسابول = شمردن/حساب کردن) څخه،چې د (ګن/ګان)برخه یې دحال زماني فعل،او د مفرد مخاطب لپاره د ( وګڼه، وشمیره ؛ حساب کن /بشمار) امري فعل هم دی ،اوس که مونږ دواړه په لاس راغلي نومونه یو دبل سره یوځای ولیکو، ورڅخه دا لاندې شکل او معنا په لاس راځي ،چې شکل او بڼه یې سل په سلو کښې د پشایي لرغونې آریایي ژبې د(دیګان) دشکل اوبڼې سره کټ مټ یوشانته .ښکاري، چې معنا یې هم ښایسته ،زړه پورې ،علمي ،ادبي او منطقي ده
مخکښې له هرڅه باید، د لوړو افعالو او نومونو دلاسته راوړلواودخپل نظردرښتینتوب په خاطراو دمحترمو ژپ پوهانو څېړونکود پوهاوي اودهغوی دنوي نظراوشننې په وړاندې، د( دیګان) د نوم لاس ته راوړل اړین او حتمي ګڼم ، چې د لرغوني آریایي ژبې(پشایي/آریک) د (ګانیک = شمیرل = شمردن) د مصدردګردان په . نتیجه کښې لاس ته راځي
یادونه : پاتې دې نه وي ،چې د(دیګان )نوم ،په بنیادي ډول، دپشایي/آریک ژبې د ادبیاتو،پرونۍ اوننۍ ژوندۍ ژبنۍ برخه او د (آریانا ویجه /آریاناویجو)له عصر اوزمان څخه راپاتې یوترکیبي نوم دی ،چې تر دا ننه پورې . په ننۍ مروجه پشایي ژبه کښې په خپل لرغوني شکل سره،شتون لري، له دوو برخوڅخه جوړ شوی نوم دی
لومړی : د (دیګان ) دنامه لومړۍ ټوټه (دی،دې= لس = ده ۱۰) ده ،چې ،په ( پشایي ، پښتو ، دری /فارسي ،اردو،انګریزي، روسي .....ژبوکښې د (دی = لس = ده = دس = تین= دیسیت ....) معنی لري .
دوهم : د (ګان ) برخه یې د پشایي ژبې د ( ګانیک = ګڼل = شمردن ....) مصدرد ګردان څخه د مفرد مخاطب !لپاره (ګان = وشمیره/بشمار) امري فعل دی

اوس دښاغلولوستونکوپوهاوي په خاطرغواړم د پشایي ژبې د (ګانیک = ګڼل = شمردن ) مصدر ګردان کړم ، . تر څو ورڅخه خپل ضروری فعلونه په لاس راوړم
ضمایر: پشایي/پښتو/دري        افعال : پشایي؟پښتو/ دري

ګانیک = ګڼل = شمردن
آ (مم) / زه / من        ګانیم = ګڼم = شمارم

| | |
|---|---|
| تو/ ته / تو | گاني= ګڼې =می شماری |
| سې/ هغه/ او | گانگا= ګڼي/=میشمارد |
| امو/ مونږ/ ما | گانیس = ګڼو= میشماریم |
| ایمو/ تاسې/ شما | گانیدا= ګڼئ= میشمارید |
| تې/ هغوی/ ایشان ،انها | گانین=ګڼي= میشمارند... |

د گانیک = ګڼل = شمردن ، د مصدر امري فعلونه :
دپشايي ژبې مفرد او جمع مخاطب امري فعلونه = گان/ گن= وګڼه/وشمیره ؛ گنا / گا ندا= بشمار /بشمارید.
اوس که ،په لاس راغلي د مفرد مخاطب او جمع مخاطب افعال ، چې په پورتني فعلي گردان کښې مو، په لاس راوستل د ( دی =لس = ده) سره يې يو ځای ولیکو دا لاندې جملې او شکلونه په لاس راځي :
دی +گان = دیگان .
لس + وګڼه = لس وګڼه .
ده + بشمار = ده بشمار.
زمونږ د پشايي ژبې په ادبیاتو کښې ،دوه نور ښکلي او يو بل ته په شکل او غږ کښې ورته ، خو په معناګانو کښې متفاوت مصادر او نومونه لرو، لکه د ( گانیک = ویستل = کشیدن :
چې په ترتیب سره يې افعال دا دي :
گانیک = ویستل = کشیدن .
پشايي : گانیم ، گاني ، گانگا، گانیس ، گانیدا ، گانین .
پښتو : باسم ، باسي ،باسي ، باسو، باسئ ، باسي .
دري : می کشم ، می کشي ، مي کشد ، می کشیم ، انها می کشند .
امري افعال يې : پشايي / پښتو /دري : كان = وباسه = بی کش .
په ځانګړي ډول سره د (کان ) کلمه په پشايي /پښتو/دري ژبوکښې د ( کان/ معدن ) معنی هم لري برسیره پر لوړوتوضیحاتو په پشايي ژبه کښې د(كان ) دنامه څخه په ترتیب مونږد (كان/خان / گان/ جان او همدا شان د همدې پشايي نوم (جن= کس=نفر)دنامه څخه مونږپه نړۍ وال ادبي کچه پيژندل شوی د( جن /جین /جنین/جینیتیک/گین/گنیتیک)نوم او نومونه،چې په پشايي ژبه کښې د( جن = کس، نفر)په معنی دي ، په کوچني حرفي تغیرورڅخه ،نورنوي نومونه زږېږي!؟
(دیګاڼ /دیګن( دیجن/ دیجان :
دې + ګاڼ = دیګاڼ = لس مشران، لس لارښودونکي ،لس تنظیموونکي... = ده بزرگ/ده رهبر / ده کلان )
...... په لاس راځي ،چې د پشايي ژبې د بحث لاندی ( دیګان / دیجان ،دیجن =لس وګڼه/ لس نفر) ،همدا شان،که دپشايي ژبې او يوبل ته ورته اومشابه کلماتو ته خپل پام را وګرزوو اود پورتني (ګڼ = مشر = کلان او همدا شان د(کانیک = ویستل = کشیدن ... )اود(كان = معدن /كان) او د (گان / گاڼ /كان) درې واړو نومونوته پام وکړو، درې واړه نومونه ، په خپلو مینځو کښې يواو بل ته سره پوره ورته ،خو معناګانې يې ځانته ځانته دي ، دا هم دپشايي ژبې په لوړو او پراخو ادبیاتو دلالت کوي لکه :
دې + گان = دیګان (دیجان / دیجن = لس کسه = ده نفر) = لس شمیرل شوي/ لس ویستل شوي... = ده شمرده شده ... / دې+ ګاڼ = دېګاڼ = لس مشران ...= ده بزرګ /ده کلان/ ده رهبر .
دې + كان = دیکان = لس كانونه = (لس پوهان...)= دیکان = لس معدنونه = ده معدن ( ده دانا...یا +لس غمي ؛ ده نګین ) چې داډول ښایسته نومونه د هماغو (لسوپوهانو ، لسو دانایانو ،لسولایقو، لسووړاو لایق شخصیتونو ...)معنا اومفهوم افاده کوي !

دلوړو توضیحاتو او شننو څخه داپه ډاګه کیږي ،چې د ( دیګان ) ترکیبي نامه دواړه د( دې = لس ) اود( ګان /ګن یا ګاڼ /ګڼ = مشر /بزرګ) او د( کان = ویستل ،ښکاره کول.... ) ښکلي او معنادار ه نومونه د پشایي ! /آریک ژبې د ادبیاتو لغات او نومونه دي

نوپه همدي بنیاد ،دا په ډاګه او ښکاره ویلای شو .چې د (دیګان ) نوم ، هماغه دلسو ټاکل شوو ، اداري کسانوپورې اړوند نوم دی او د ( دیګانو ) نوم ،چې په ژبه اطلاق کیږي د هماغو ( لسو کسانو= دیګان /دیګانانو ! )صفتي او کاري نوموم دی اوبس

دیګان، دیګانان ؛ دیکان/دیکانان او وروسته د اسلام د دین په پیل کښې د (دیګان /دیکان) د نامه د سر غږیز د (ی) توری په بل نږدې غږیز توري (ه) اود (ګ، ک ) ساکن توری یې د عربي ژبې (ق) په توري اړول شوی او لیکل شوی دی ، چې د (دیګان/ دیکان ) پشایي/آریک نوم په عربي ژبه کښې په نني( دهقان ) نوم اوښتی دی !

نتیجه : داچې د (دیګان ،دیګانان او دیګانو) نومونه ، دکومې خاصې اوځانګړې ژبې او خاصو خلکونوم نه دی اوپه خپل وخت کښې د منصب او اداري کسانو پورې اړوند نوم دی ، چې د مهاجرتونو په پایله کښې د وخت د (دیګان /دیګانانو) زامنو او لمسیو دا افتخاري نوم دځان سره دسیمې او نړۍ پراخو سیموته په لرغوني بڼه !(دیګان /دیکان/دهقان ...) په خپلو ژبو کښې ساتلای وو ،چې نن نږدې ناپیژاند شوی نوم ګرزېدلای دی

د لوړومشابه کلماتواومعناووڅخه، دا په ډاګه کیږي،چې د پشایي ژبې ادب خورا پراخ اوغني ادبیات لري اوپه ! لرغږیز توپیرسره،ورکښې نوي لغات د نوو معناوو سره رامینځته کیږي

: دیکان

: دا نوم هم خورا زوړ او دپشایي /اریک ژبې یو ترکیبي نوم دی ،چې : له دوو برخو څخه جوړ شوی دی

. دی = لس = ده

. کان = وباسه = بی کش

. دی + کان = دیکان = لس وباسه

د (کان ) کلمه دپشایي ژبې د (کنیک = ویستل = کشیدن )له مصدر دګردان څخه د (کان / کن = وباسه ، ښکاره ! کړه = بکش /نمایان کن) فعل دی

برسیره پر دې د (کان ) کلمه په پشایي، پښتو او دری/فارسي ژبو کښې په ( معدن) هم اطلاق کیږي ، خو اصلي ریښه یې په پشایي ژبه کښې پرته ده ،چې د (کنیک = ویستل = کشیدن ) مصدر دګردان په نتیجه کښې مونږ د ( کان /کن) نوم لاس ته راړو، چې په پشایي ژبه کښې همدا د ( کن/ کان ) نوم د مفرد مخاطب لپاره یو امري فعل دی ،چې معنایي (کن/ کان = وباسه = بیکش ) ده ، علاوه پر دې په پشایي ژبه کښې د ( کان/ کن ) نوم دوه معناوې لري ،چې یو یې د ( کنیک = ویستل = کشیدن)مصدراو دوهم نوم اومعنایي ۰ کان = معدن )دی !

.... بیلګه : دی = لس = ده ، دس .... کان/کن = وباسه = بیکش

دی + کان/کن = دی کن / دیکان په لاس راځي ،چې همدا کلمه نن هم په روسي (سلاوي)ژبوپه ادبیاتو او نورو هندو اروپایي ژبو کښې ،چې د اریک/ پشایي ژبې لوښي او لمسۍ دي د (دیکان / دیکان/ دیکانات ..... = رئیس ! ،مشر ، لاربشود ، ښوونکي ) په ورته اشکالو سره لیدلای او کتلای شو

د دیګان او دیکان کلیمې په لومړي سر کښې جدا جدا نومونه دي ،خو د زماني په تیریدواو دبیګانه استعماري ژبو د آدب د حاکمیت په نتیجه کښې ، یا د ترجمو په وخت کښې کله کله ،په استعماري ژبو کښې د ځینو حروفو دعدم موجودیت په شتون کښې ،هغوی خپل حروف استعمالوي او پر ځای یې خپل د الفبا توري ،چې ورسره ورته یا نږدې وي وراچوي اود اصلي ژبې کلمات اونومونه دخپلو حروفو په استعمال سره متغیر کوي ، لکه (

دیګان) لرغونی تاریخي (اریک / پشايي ) نوم چي، په عربي ژبه کښې، په ( دهقان )اوښتی اولیکل شوی دی ، دا په دې خاطر چي، دعربي ژبي (الفبا) د (ګ) توری نه لری !؟
! ښه بیلګه یې د پشايي ژبې د (دیګان/دیکان) په نامه کښی عملاّ ښکاره او څرګنده ده
دا،چي عربي ژبه په خپله الفبا کښي د (ګ) توری نه لري ،نو لیکونکی او مترجمین یې د اړتیا په وخت کښې د (دیګان ) د کلیمي د (ګ) توری په خپل ادب کښی د خپلي ژبي د ادبیاتو تابع ګرزوي او د( دیګان) دنامه پرځای ( دیکان /دیقان/ دهقان ) لیکي ، چي په ښکاره توګه دا کار دپشايي ژبې د (دیګان/دیکان) په نامه شوی دی !؟
د لوړو توضیحاتو څخه، دا ښکاره شوه ،چي د ( دیګان / دیګانو ) نومونه، د اریائیانو د اوړده او زاړه ،ادبي تاریخ په اوږدو کښې، د یوه نوي پړاود ادبیاتو زیږنده ده ، چي په خپل وخت کښي راټوکیدلی ، دهغه وخت دخلکو د منصب او اداری ښایسته نوم وو،چي ورڅخه د ننی دیموکراسی خوش بويې هم خوريږي ، اوس په زغرده ویلای شو ،چي (دیګان ) په اریک /پشايي ژبه کښې د وخت د اریائیانو د منصب او مقام کلمه او نوم دی ، چي وروسته همدا کلمه د تخصیص په حالت کښې په (دیګانو ) اوښتي ده ، دا کومه ژبه نه ده ، دا دهغو د وخت د حکومت تشکیلاتي / اداري منصبدارانو لپاره په کار وړل شوې ده ، کومو ،چي په (پشايي /اریک ) ژبه خبرې کولې او خپلې ورځنی چارې یې پر مخ وړلې ، دا هم باید په ډاګه سره وواېو ،چي ( دیګان/دیګانان ! /دیکان/ دیکانان /دهقان/ دهقانان ټول د لرغونو آریائیانو / آریکیانو / پشایانو اولادونه وواو، دي
: پایله
پاتې دې نه وي ،چي همدا د (دیګان ) نوم په اکثرو سلاوي ژبو لکه ،په روسي ژبه کښې (دیکان / دیکانات... ) !په شکل کښې، دښکلومفاهیمو د( مشر ، عالم ، پوه ، لارښود،رئیس ...) په بڼه شتون لري
زما په پوره باور او یقین د ( دیګان / دیکان / دهقان ) ترکیبي نومونه به، د اصلي آریايي آریک / پشايي ژبې د ( دیجن = لس کسه/ لس کسان / ده نفر) څخه به له ( دیجن = دیګن / دیګان / دهقان / لس نفر/ څخه به په ( دیګن / دیګن / دیګان / دهقان ) اوښتي وي ؟
ې ،aدیګان یعنی لس مشران ....... چي دا په ژبه نه اطلاق کیږي ښايي، چي دا لس کسان به د کلي ، سیم ولسوالۍ ، ولایت ، دولت د تشکیلاتي کارونو ترتیبوونکي ، لار ښودونکي ، پوه مشران او دانا شخصیتونه به وو ،په خپله لرغوني اصلي آریايي، آریک / پشايي ژبه، به يې خبرې کولې ، په مرورد زمان، ورو ورو ، او په خلکویي ،چي په پشايي ژبه، به غږیدل a(دهغوی دمنصب او مقام په ویاړ به ، دهغویو په بچو به د(دیګان ! د (دیګانانو) اوپر ژبه، به يې د (دیګانو) نوم اطلاق شوی وي
دا ځکه، چي نني زمونږ دسیمي دکونړ ولایت اواکثرآ نورخلک، مونږته ، د نورګل ولسوالۍ ،د دواړو نورګلونود کلیو اوسیدونکو ته، د نورو ژبو خاوندان ( دیګان ، دیګانان ) وایي او ژبي ته یې ( دیګانو ) حال دا، چي تر دا ننه دا خلک په پشايي/اریک ژبه خبرې کوي او بنیادي پشایان دي !؟
نودادی، اوس د خپلي څېړني پربیخ ، بنیاداو بنسټ ،داپه ډاګه وایو ،چي ( دیګان ) خلک ، که د سیمي اویا دنړۍ په هر ګوټ کښې ،چي اوسیږي، دا هماغه ښاغلي پشایان / اریکیان دي او د (دیګان او دیګانو) کلمې ! دهغویو د لرغونیکونو او اجدادو لپاره یو تخصیصي ،کاري نوم دی ، نه د ژبې نوم
د ښاغلو ژب پوهانو او ژب څېړونکو څخه په درناوي هیله کیږي ،چي خپلې لارښودې او جوړوونکې نیوکې ،د همدې لیکنې په اړوند را سره شریکې کاندې ، تر څو په دې برخه کښې لا ښه ګټور او بنیادي معلومات خپلو !خلکواو نړیوالو ژب څېړونکو ته وړاندې کړای شو
. په درنښت

05-01-2025

«احمدجان «مانو